SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږی

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال اووه ویشتمه گـڼـه پرله پسي(۳۱٤)یکشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د محرم الحرام (۷)د۱۳۷۹هـ ش کال د وری (۲٤)د۲۰۰۰میلادي کال د اپریل(۱۲)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عـدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزگـاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

روسیې د افغانستان له خلکو سره خپله دښمني یو ځل بیا اعلام کړه

د بهرنیو چارو محترم وزیر

د افغانستان د اسلامی امارت دبهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل پرون له غرمی مخکی د خپل کار په دفتر کی په کابل کی د پاکستان د اسلامی جمهوریت له سفیر او فوق العاده استازی محترم عزیز احمد خان سره وکتل.

د باختر د اطلاعاتی آژانس خبریال خبر راکړ ددغی کتنی په بهیر کی دواړو خواوو د علاقی وړموضوعگانو او سیمه ییزو او نړیوالو مسالوپه باره کی خبری وکړی او د سیمه ییزو او نړیوالو مسالو په اړوند یی د خپلو هیوادونو اصولی دریځونه طرحه کړل.

د بهرنیو چارو محترم وزیر د ایران د اسلامی جمهوریت د دیپلوماتیک هیأت وروستی سفر د دواړو مسلمانو او گاونډیو هیوادونو تر منځ د اړیکو د ښه والی په لاره کی یو مثبت تماس وباله او زیاته یی کړه چی ددغه شان هیأتونو سفر د دواړو هیوادونو تر منځ د اړیکو د ټینگښت سبب کیږی.

محترم مولوی وکیل احمد متوکل د روسیې د امنیت شورا د رئیس ایگور ایوانوف وروستی غیر مسولانه ګرگندونی مردودی وبللی او زیاته یی کړه د روسانو لخوا د افغانستان د اسلامی امارت د مخالفینو وسله وال کول او ٤ مخ

د کورنیو چارو محترم وزیر له یو شمیر خبریالانو سره په مرکه کی:

د کورنیو چارو وزارت منسوبین به

د پولیسو په یونیفورم سره

سمبال شی

د افغانستان د مجاهدو خلکو په همکاری سره په هیواد کی امنیتی نظام تر هر وخت لا زیاته پیاوړتیا موندلی ده

ژورنالستان باید حقایق منعکس کړی او د اکاذیبو د خپریدو مخه ونیسی

د کورنیو چارو وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند په کابل کی د بهرنیو آژانسونو له یو شمیر ژورنالستانو او خبریالانو سره مطبوعاتی مرکه وکړه او د هغوی پوښتنو ته یی ځواب ووایه.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د کورنیو چارو محترم وزیر پرون په کابل کی د بهرنیو آژانسونو له یو شمیر ژورنالستانو او خبریالانو سره مرکه وکړه او د هیواد د امنیتی حالت په باب یی د هغوی پوښتنو ته ځواب ووایه او زیاته یی کړه.

په هیواد کی بشپړ امنیت او ثبات تامین دی امنیتی نظام د افغانستان د خلکو په هر اړخیزی همکاری سره د کورنیو چارو وزارت د امنیتی چارواکو او منسوبینو لخوا د بل هر وخت په نسبت زیات ټینگښت او پیاوړتیا موندلی ده او په دی اړوند د هیڅ راز اندیښنی ځای نشته. د کورنیو چارو وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند د یوه خبریال د پوښتنی په ځواب کی وویل هغه پیاوړی امنیتی رژیم چی اوس په هیواد کی واکمن دی خلکو ته د امنیت په تامینولو سربیره یی د خلکو د سوداگری ترانسپورت او د آزادانه تگ راتگ په برخو کی ښی او پراخی زمینی برابری کړیدی خو له بده مرغه کله نا کله د بهرنیو مطبوعاتو له لاری اوریدل کیږی چی گنی په افغانستان کی امنیت زیانمن شویدی.

اوس ستاسو دنده ده چی حقایق منعکس کړی او نړی د افغانستان په اوسینو واقعیتونو او د هغه واړمن امنیتی ثبات په باب چی شته خبره کړی او هلی ځلی وکړی چی د حقایقو او ٤ مخ

د ریاست الوزرا د محترم مرستیال په مشری:

د خصوصی پانگی اچونی د عالی کمیټی غونډه جوړه شوه

د ریاست الوزرا د اقتصادی مرستیال محترم مولوی عبدالکبیر په مشری پرون له غرمی مخکی د خصوصی پانگی اچونی د عالی کمیټی غونډه جوړه شوه.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په دی غونډه کی د پلان وزیر محترم قاری دین محمد حنیف دسوداگری وزیر محترم مولانا عبدالرزاق د کانو او صنایعو وزیر محترم ملا محمد عیسی اخند د مالیی وزارت معین محترم مولوی عارف الله عارف او د خصوصی پانگی اچونی د هڅونی او پراختیا د مرکزی اداری عمومی رئیس محترم مولوی شجاع الدین خدام گډون کړی و په دی غونډه کی د غوړیو او صابون د تولید مسلخ او اوړو د ژرندی او درمل جوړولو په برخو کی د دوه سوو اته اتیا ملیاردو اوه سوه اته دیرشو ملیونو افغانیو په لومړنی پانگه او دوه سوه اوه نوی ملیاردو شپږ ٤ مخ

محترم ملا محمد طاهر انوري در محفل اداره کنترول و تفتیش شرکت نمود

محترم ملا محمد طاهر انوري رئیس عمومي اداره امور امارت اسلامي قبل از ظهر دیروز در محفلي اشتراك نمود که بخاطر توضیح صلاحیت نامه هاي مفتشین اداره کنترول و تفتیش دایر گردیده بود.

اژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: در آغاز محفل محترم مولوي محمد خان رئیس اداره کنترول و تفتیش ضمن صحبت مفصل مفتشین را بخاطر ص ٤

په اسلام آباد کی:

محترم مولوی سید محمد حقانی د چین له لوی سفیر سره وکتل

د پاکستان په اسلامی جمهوریت کی د افغانستان د اسلامی امارت لوی سفیر او فوق العاده استازی محترم مولوی سید محمد حقانی پرون له غرمی مخکی د پاکستان په اسلامی جمهوریت کی د چین د ولسی جمهوریت له لوی سفیر ښاغلی لوشولین سره وکتل.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په دی کتنه کی د دواړو هیوادونو تر منځ د ښو ٤ مخ

په هیواد کی د شری د ناروغی د له منځه وړلو په هکله خبری وشوی

د افغانستان د اسلامی امارت د عامی روغتیا وزارت د نړی له روغتیایی سازمان سره د یو گډ او تاکلی پلان له مخی د شری د ناروغی د له منځه وړلو په باب موافقی ته ورسید.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په هغی کتنه کی چی د عامی روغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزی پرون د کتلوی معافیت په برخه کی د نړی د روغتیایی سازمان له سلاکار ٤ مخ

جنگهاي شدید بین افراد مخالفین در منطقه سنجدره ادامه دارد

شریعت: قرار گزارش منابع موثق از منطقه سنجدردره ولایت پروان درگیري هاي شدیدي بین افراد گروپهاي مسلح مخالفین که چندي قبل از اثر اختلافات ذات البیني آنها بین شان آغاز گردیده بود اکنون نیز ادامه دارد. گزارش مي افزاید: این درگیري ها که بین افراد قوماندان حیدر و قوماندان ملابیگ جریان دارد در نتیجه ان قوماندان ٤ مخ

د کابل ښار په دری نورو سیمو کی:

د نړیوال تیلفون مرکزونه جوړ شول

کابل ښاریانو ته د زیاتی اسانتیا د برابرولو په قصد د کابل ښار په بیلا بیلو سیمو کی د نړیوال تیلفون او فکس د مخابری دری نور مرکزونه فعال شویدی.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د کابل ښار په مربوطاتو کی د نړیوال تیلفون او فکس د مخابری د اجرا کولو د مرکزونو د پرانستلو او فعالیت په لړ کی په دی وروستیو وختو کی د تایمنیو د دریم سرک د منډوی د دوبی مارکیټ په سیمو او د پل خشتی د جامع جوماتت تر شا د نړیوال تیلفون او فکس دری ص ٤

مبارزین مسلمان چیچن پایگاه هاي جدیدي را تأسیس مي نمایند

به گفته روسیه مبارزین مسلمان چیچن پایگاه هاي جدیدي را در کوهستانهاي جنوب چیچن تاسیس مینمایند.

هدف از ایجاد پایگاه هاي جدید آماده گي براي شدت بخشیدن حملات علیه قواي روسي در جمهوري چیچن خوانده شده است. بگفته منابع ص ٤

در ولایت هرات

هفده کیلو گرام چرس کشف گردید

هفده کیلو گرام چرس اخیراً از مربوطات ولایت هرات کشف و حریق گردید.

آژنس اطلاعاتي باختر از ولایت هرات خبر داد: به اثر سعي و تلاش منسوبین ریاست امر بالمعروف و نهي عن المنکر ولایت هرات اخیراً مقدار هفده کیلو گرام چرس که طور مخفي توسط دو تن اشخاص هر یك عبدالخالق و خلیل احمد باشنده شهر هرات بفروش میرسید توسط موظفین ان ریاست بالفعل کشف و عاملین آن ص ٤

د شبرغان- مزار شریف د گاز پایپ لاین پرانستل شو

د شمال زون تنظیمه رئیس او د بلخ والی محترم ملا نور الله نوری او د کانو او صنایعو وزارت معین محترم ملا عبدالسلام ضعیف پرون د شبرغان مزار شریف د گاز پایپلاین پرانست.

په هغی غونډه کی چی له همدی امله جوړه شوی وه د شمال زون د امارتی ادارو چارواکو او رئیسانو علما کرامو او د بلخ ولایت گڼ شمیر خلکو برخه اخیستی وه.

د شبرغان مزار شریف د پایپ ٤ مخ

د هرات په ولایت کی د باروړونکو وسایطو عمومی پارکنگ جوړیږی

د هرات په ولایت کی د خصوصی سکتور د باروړونکو وسایطو د عمومی پارکنگ د جوړولو په خاطر ځلوېښت جریبه ځمکله بیله کړی شوه.

د هرات له ښار نه د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د ٤ مخ

مرکز تربیوي مخابرات بمثابه یك کانون علمي و تحقیقاتي داراي هفت دیپارتمنت میباشد

شریعت: خوانندگان عزیز! خبرنگار ما به سلسله دیدار هایش از مراکز، موسسات، بنیاد ها و ادارات اقتصادي، فرهنگي، صحي، و خدمات اجتماعي امارت اسلامي افغانستان، اینبار از مرکز تربیوي مخابرات دیدن نموده و با محترم استاد محمد فاروق معاون آنریاست مصاحبه را انجام داده است که توجه شما عزیزان را به آن معطوف میداریم.

درآغاز محترم استاد محمد فاروق چنین گفتند: مرکز تربیوي مخابرات که در سال ۱۳٤۵ به همکاري همه جانبه موسسه ITU سازمان ملل متحد تأسیس و به فعالیت آغاز نموده است به سطح کشور یگانه مرکز تربیوي بوده که در رشته هاي گوناگون مخابراتي کادر هاي جوان را تربیه ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

روسان سر بداله دی او که د ملگرو ملتونو په ډاډ بی مسولیته خبری کوی؟

روسان له دی سره سره چی د افغانستان د جنگی تاوان پوروړی دی، له دغه درانه پیتی سره سره چی په سر یی بار دی له افغانستان سره له دښمنی نه لاس نه اخلی په پټه او ښکاره زموږ په هیواد کی د جگړی اورته لمن وهی او تیل ورباندی شیندی،

د مخالفینو پوځی او مالی اکمالات کوی او د دغه مطلب لپاره زموږ گاونډی هیوادونه استعمالوی؛ که څه هم چی زموږ شمالی گاونډیان ځان خپلواک بولی خو دیریی لا اوس هم د روسیې د غلامی کړی ۲ مخ

طیارات جنگی اسرائیل جنوب لبنان را بمباری نمود

طیارات جنگی اسرائیل صبح دیروز بر جنوب لبنان بمباران نمودند درین حمله چند راکت هوا به زمین شلیک گردیده اند طبق همین خبر قوای توپچی اسرائیل نیز شب گذشته بر قریه کفر رومان واقع در قسمت اشغالی جنوب لبنان گلوله باری نمودند که از تلفات و خسارات احتمالی آن تا کنون خبر داده نه شده است.

توفان بی سابقه برف در امریکا

یک طوفان بی سابقه برف برخی از نواحی کانادا و ایالات متحده امریکا را فرا گرفته است.

ضخامت برف در برخی ازین نقاط به پنجاه و پنج سانتی متر رسیده و هر نوع نشانه آغاز فصل بهار را در ایالت کبیک کانادا نا پدید کرده است. از اثر این طوفان غافل گیر برف صد ها حادثه تصادم ترافیکی نیز در نقاط مختلف کانادا روی داده است.

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد «فاروق»
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقاله پاتی برخه

په غاړه کی گرزوی او خپل پایښت د روسیې په حمایت او ملاتړ کی وینی نو ځکه د روسیې د هغې دښمنانه تگلاری لپاره پخپله سیمه کی زینه او زمینه برابروی چی د افغانستان په هکله یې روسیه چلوی؛

په داسی حال کی چی د افغانستان اسلامی امارت دا نه غواړی چی له گاونډیانو او نورو هیوادونو سره تش په تشه دښمنی وکړی نو بیا د څه لپاره روسیه د دغو لاس پوڅو هیوادونو په خاوره کی باتورو او میړنیو افغانانو ته توری بریښوی، کله پوځی مشقونه کوی ؟او کله داسی بی مسولیته او احمقانه گواښونه کوی چی په خپلواک او باتور افغانستان باندی به گوذارونه وکړی او د ربانی ډلی او احمد شاه مسعود ته به پوځی مرستی ورکړی ؟

افغانان او نړی پوهیږی چی دغه مرستی خو له پیل نه روانی دی نو دغه نوی گواښونه او باتی د څه لپاره دی ؟ که ددی لپاره وی چی دغه بهیر نور بریند او برالا شی نو بیا به لا هم م.م په دغه ناروا تیری باندی خپلی چوپتیا ته ادامه ورکوی او که څنگه ؟ ایا بیا به هم روسیه او د هغی تر سیاسی پوځی منتر لاندی هیوادونه د سولی په نوم د ٦+۲ د فورمول غړی وی ؟

م.م اوس هم ددغــــه تناقض ځواب نه لری چی لاس وهونکی او په افغانــــستان کی د جگړی د دوام پلوی هیــوادونه بی د سـولی او جگړی ختمولو په پروسه کی څنگه را یو ځای کړی دی ؟ او لخضر براهیمی ته ددغه ناکام او متناقض فورمول تلقین چا کړی و ؟

افغانان دا خبره منی چی روسیه د خپل سلف شوروی په څیر له استاد ربانی څخه نور محمد تره کی او له احمد شاه مسعود څخه حفیظ الله امین یا کارمل یا ډاکتر نجیب جوړولی شی خو په افغانانو باندی به چی چلانده او ناچلی څیـری پیـژنی، بیـا دغـه سکی او څیـری څنگه چلوی ؟ او هغـه افغانان چی اوس د پیسـو لپاره د ربانی او مسعود په مورچلو کی ټوپکان چلوی ایا هغه وخت به بیا د خپلی قبلی سمت او لوری معلوم نکړای شی چی اوس نو باید څه وکړی ؟

روسیه چی اوس د چیچن په مسلمان او خپلواک هیواد باندی تیری ناسور ورته جوړ شوی دی، د اروپایی ټولنی او د م.م د بشری حقـونو د څانگی د مشری په خـوله پوری خاندی او سمه خبره هم نه ورته کوی، م.م ددی پوښتنی څه ځواب لری چی د امنیت او بشری حقونو دښمنه روسیه د څه لپاره د امنیت په شورا کی دومره رسوخ او اعتبار لری چه هره هغه پریکړه چی ویی غواړی په دغه شورا بی منلی او پاس کولای شی ؟

افغانان په دی باور دی چی وړباندی لگیدلی بندیزونه فقط د امریکی او د روسیی له پلوه دی، د نورو بندیزونه گواښونه هم یوازی د همدوی غوښتنه ده ؛ او په دی خبره هم باور لری چی دا یوانوف وروستی گواښونه هم د امنیت له شورا نه په پوره ډاډ او بیغمی نه سرچینه اخلی .

اوس دغه پوښتنه د امنیت له شورا څخه افغانان او نور نړیوال کوی چی له دی واړه بی واکی او بی وسی سره سره د امنیت نوم له ځان سره ساتلای شی او که نه ؟

که ځواب «نه» وی نو بیا د انسانی همت او جرئت غوښتنه دا ده چی په خپله بی واکی او بی وسی باندی په نره اعتـراف وکـړی او ځان نور د خلکو خندنی نه کړی .

خطر یا بهانه برای گسترش نفوذ ها!!

ابو جاهد

با فروپاشي اتحاد شوروي امپراتوري عظيمي كه ساحه، نفوذش از اروپا تا اسيا در بخش بزرگي از جهان گسترده بود پارچه پارچه شد. اين تحول براي جهان غرب نه تنها از نظر نظامي داراي اهميت بود بلكه با اين تحول جهان سرمايداري خود را با بازار هاي جديدي مواجه يافت كه از شرق اروپا تا خاور دور وسعت داشت . نظام سرمايه در غرب سفره، رنگيني را در برابر خود گسترده ديد كه بايد از آن بهره مي برد، درين ميان آسياي ميانه بخاطر منابع بزرگ طبيعي خويش چنگال هاي آزمند غرب را بسوي خود متوجه ديد سرزميني كه مي تواند بازار خريد مواد خام به قيمت ارزان براي غرب باشد كه بعداً اين مواد در كارخانه هاي غرب به محصولات صنعتي مبدل گرديده و مجدداً به بازار هاي اين منطقه سرازير گردد . عوايدي كه قبلاً از راه فروش مواد خام نصيب آسياي ميانه مي شد مجدداً از اين طريق به جيب غرب مي رود.

در راه چنين داد و ستد هنوز هم يك مانع در برابر غرب وجود دارد. فدراسيون روسيه كه بيش از هفتاد سال در چهار چوب اتحاد شوروي بر اين خطه تسلط داشت مي خواهد به نفوذ خويش درين سرزمين ها ادامه دهد و در مقابل امريكا و غرب مي خواهند نفوذ خود را جانشين نفوذ روسها سازند درين ميدان رقابت نقش خود اين جمهوريها بسيار ضعيف و متزلزل مي نمايد رهبران درين كشور ها كه بيشتر متشكل از همان كمونيست هاي سابق اند مي خواهند از راه دامن زدن به تمايلات قومي و ملي در ميان ملت خويش انگيزه يي براي توجيه ضرورت مرز هاي جدا از كشور هاي همسايه خلق كنند در حاليكه يك دهه قبل اصولاً چنين مرز ها مشخص نبود. درين رابطه نيز تمايل خود اين رهبران براي ماندن بر مسند قدرت بيشتر مطرح است تا ضرورت داشتن يك سرزمين مستقل و يك كشور آزاد .

درين كشور ها هنوز مفكوره ملي در اذهان جامعه تا آن حد قوام و استحكام نيافته است تا بتواند بصورت جدي مفهوم ملت را به نمايش بگذارد ملت هاي اين خطه بعلت سلطه دير پاي استبداد كمونيستي هنوز جرئت ابراز راي آزاد را علي الرغم انتخابات (كه اكثراً بشكل فرمايشي بر گذار مي شود) ندارند. بسياري از اين اقوام چون طفلي كه تازه تمرين راه رفتن و بر پا ايستادن مي نمايد خود را نيازمند نيرويي مي بينند كه زير بازوي آنان را بگيرند . وحشت از افتادن و بر زمين خوردن هنوز بر اذهان مسلط است و راه بجايي بردن با پاي خود براي آنان دشوار مي نمايد.

درست بر بنياد همين عامل رواني است كه هم روسها و هم دنياي غرب مي خواهند اسياي ميانه را از خطرات بترسانند هرچند كه اين خطرات واهي و غير واقعي نيز باشد.

هر حركتي هر چند خود انگيخته و انفعالي بعنوان يك توطئه بسيار خطرناك سازمان يافته از طريق رسانه هاي گوهي مورد بزرگنمايي قرار مي گيرد و خواب رهبران اين كشور ها را آشفته مي سازد. روسها و غربي ها مي خواهند به اين كشور ها تفهيم نمايند كه اگر به نفوذ آنان تن در ندهند يا در كام (طالبان) فرو خواهند رفت و يا با جنگ داخلي مواجه خواهند شد همان حالتي كه تلخي اش را تاجكستان قبلاً تجربه كرده است .

در تاشكند انفجار بمب ها به نيرو هاي مخالف پشت مرز نسبت داده مي شود و اين در حاليست كه در ازبكستان مردم از حكومت مسلط بر خويش ناراضي اند درين كشور تنها نيرو هاي مسلمان مخالف رژيم نيستند بلكه جناحهاي ديگري نيز وجود دارند كه از فساد و چپاولگري در ارگانهاي رژيم به سختي متنزجر اند كار بجايي رسيده است كه دولت اين كشور نه تنها فعالين سياسي را دشمن خود مي داند بلكه فعالين كميسيون دفاع از حقوق بشر ازبكستان نيز كه نهادي غير سياسي است از دستگيري و ستم رژيم در امان نمانده اند.

بنا بر اين عنوان كردن يك خطر خارجي بعنوان وسيله يي براي گسترش نفوذ غرب از يكطرف و تلاش روسها براي بقاي نفوذ شان از جانب ديگر امري لازمي است . از آنجا كه روسيه خود به مشكلات بزرگي هم از نظر اقتصادي و هم از نگاه امنيتي در داخل مواجه است كشور هاي آسياي ميانه بيشتر تمايل دارند تا براي رويارويي با اين خطر از امريكا كمك بخواهند درين راستا لازم است تا امريكا درين منطقه منافع اقتصادي داشته باشد. منافع اقتصادي موجب خواهد شد تا امريكا احساس مسؤوليت بيشتر در دفاع از امنيت منطقه داشته باشد.

چندي قبل سازمان F.B.I امريكا يك شعبه خويش را در يكي از كشور هاي آسياي ميانه كشود و هدف خويش را از اين اقدام مبارزه با اقدامات تروريستي و كنترول مواد مخدر در اسياي ميانه قلمداد كرد. اين اقدام امريكايي ها روسها را در موقف ضعيفي قرار داد در شكارگاه اختصاصي روسيه شكارچي جديدي وارد عمل شده بود و بايد روسها از امريكايي ها درين كار جلو تر مي رفتند و اطمينان بيشتري به كشور هاي اسياي ميانه ميدادند.

به همين ارتباط در جلسه امنيتي چند كشور آسياي ميانه كه در دوشنبه پايتخت تاجكستان داير شده بود مسئله امنيت مرز هاي جنوبي آسياي ميانه مورد بحث قرار گرفت . درين جلسه ايگور ايوانوف مسؤول شوراي امنيت فدراسيون روسيه در رقابت با اقدامات پوليسي امريكا طرح اقدام نظامي عليه امارت اسلامي افغانستان را بصراحت بيان داشت كه همه شامل كمك نظامي به مخالفين امارت ميشود و هم در صورت لزوم حمله به داخل افغانستان را غرض از بين بردن به اصطلاح (مراكز تروريستي) شامل ميشود.

اقدامات و تلاش هاي اخير روسيه و امريكا بخشي از رقابت آنان در آسياي ميانه است. هر دو كشور در تلاش اند تا خود را بيشتر در دفاع از امنيت منطقه متعهد وانمود سازند و درين ميان افغانستان و خطر واهي (اسامه بن لادن) و تروريسم فقط يك وسيله است بهانه يي است تا نفوذ آنان را گسترش بخشد و منابع آسياي ميانه و بازار هاي اين خطه را تصاحب نمايند.

چنين بنظر مي رسد كه درين رابطه روسها واقعاً راه خطا مي پيمايند. اگر زمامداران كرملين به عمق مسئله توجه نمايند مطرح كردن خطرات غير واقعي و ترسانيدن كشور هاي اسياي ميانه از آن در طويل المدة به نفع روسها نيست زيرا هر قدر اين خطر (جدي) و (بزرگ) جلوه داده شود به نفوذ امريكا در منطقه كمك خواهد كرد زيرا روسيه از نظر اقتصادي و نظامي اين توان را نداد كه با نفوذ امريكا درين منطقه مقابله نمايد بنا بر اين براي روسيه مطلوب تر آنست كه بجاي عنوان كردن خطر طالبان و بنيادگرايي اسلامي و استفاده از حربه، امريكا براي نفوذ درين خطه، دست به اقداماتي بزند كه كشور هاي آسياي ميانه مطمئن گردند كه اصلاً چنين خطري وجود ندارد.

هر قدر موضوع (خطر از مرز هاي جنوب) بزرگ ساخته شود اسياي ميانه را بيشتر به دامن غرب خواهد انداخت . در حاليكه در عمل تا كنون چنين خطري متوجه مرز هاي اين كشور ها با افغانستان نبوده است .

كشور هاي آسياي ميانه نيز بايد به اين نكته متوجه گردند كه آنهايي كه سخن از خطر براي آسياي ميانه بميان مي آورند ميخواهند تشنج مصنوعي در منطقه خلق نموده و حضور خود را در منطقه تحكيم نمايند.

راهي كه جمهوري تركمنستان تا كنون پيموده مسير واقعاً درستي بوده است. اين كشور هر چند رسماً امارت اسلامي افغانستان را برسميت نشناخته است ولي به روابط تجارتي و همكاري هاي تخنيكي ميان دو كشور همسايه و دوست اجازه داده و در نتيجه هيچ ضرورتي به نيرو هاي خارجي براي حفظ مرز خويش با افغانستان احساس نمي كند. امروز نيرو هاي امارت اسلامي مستقر در مرز دو كشور با همكاري نيرو هاي جمهوري تركمنستان حافظ امن و ثبات در مرز اند تركمنستان ميداند كه هيچ دليل و موجبي وجود ندارد كه امارت اسلامي خواستار تشنج در مرز و در روابط ميان دو كشور همسايه باشد.

ازبكستان نيز اعتراف مي كند كه از وقتيكه نيرو هاي امارت اسلامي در مرز با آنكشور مستقر گرديده اند هيچ اقدامي كه نشان از تخلف جانب امارت اسلامي از موازين قبول شده در روابط ميان دو كشور مستقل باشد به مشاهده نرسيده است ولي اين ترس واهي همچنان بجاي خود باقيست .

اگر كشور هاي آسياي ميانه بجاي دعوت از ديگران براي تامين امنيت مرز شان با افغانستان مستقيماً با امارت اسلامي افغانستان در تماس گردند كاملترين اطمينان را بدست خواهند آورد كه آنانرا از بيگانگان و نيرو هاي شان بي نياز خواهد ساخت .

کفری تهدیدونه او ایماني مسؤلیتونه

فاروق

نن سبا نړیوال کفر د اسلام په مقابل او د مسلمانانو په ځورولو، محکومولو او محاصره کولو کی دومره سره یو موټی شوی چی نور یی په دی هکله حتی کوم وړوکی جزیی اختلاف هم تر منځ نه دی پاتی، یهود، هنود او نصرانیت یو لاس او یوه خوله په ټوله نړی کی په مسلمانانو پسی دی، کـه د تعـزیرونو او بندیزونو خبره وی نو پر مسلمانانو وی، که بی ځایه تور او تهمت وی په مسلمانانو یی لگوی او که چیرته څه جنگ جگړه منځ ته راځی نو د مسلمانانو لوری یکی ځبل کیږی دا د کفر او اسلام لانجه خو لا د پخوا نه په هر ځای او هره زمانه کی را روانه ده او کـفار تل د مسلمانانو دښمنان دی خو په دی لړ کی زموږ گران هیواد تر هر چا زیاته د کفارو بدی په سر اخیستی او دا دی د سر په سترگو مو ولیدل چی په همدی روانه پیړی کی یو ځل انگریزانو ځانونه را سره ستړی کړل، بیا روسانو او اوس دا دی ټول له پلوه راته یو موټی شوی دی، کله مو چی د امنیت شوری څخه په افغانستان د نورو بندیزونو تهدید واورید نو سمدستی روسانو وررسره غبرگه کړه چی موږ هم حق لرو په افغانستان کی په تروریستی مرکزونو برغلونه وکړو او له ی سره سره د افغانستان د قانونی دولت (ربانی او مسعود) په غوښتنه او مرسته پراخ نظامی پرمختگ هم کولای شو .

په همدی ډول نور ډیر اخطارونه او تهدیدونه دی چی هره ورځ یی اورو او بیلا بیلی خپرونی یی نشر وی او د هر چا غوږ ته رسیږی، موږ په دی خبرو له کفارو هیڅ گیله هم نه کوو، دوی چی هر څه کوی او هر څه وایی دا په دوی پوری اړه لری او لوی خدای (ج) هم په واضح ډول مسلمانانو ته خبر ورکړی چی غافل کیږی مه، کافران همیشه تاسو ته په کمین او تل د یرغل په فکر کی دی، زموږ گیله یوازی له مسلمانانو څخه او بیا په تیر د هغو افغانانو څخه ده چی ځانونه مجاهدین بولی او ریښتیا یی هم جهادونه او هجرتونه کړی او د هیواد د استقلال لپاره یی منډی تړری او ستونزی گاللی دی موږ نه پوهیږو هغه مجاهدین څه شول چی شپه ورځ به د روسانو له خوا د اور او باروتو په سرو لمبو کی کلک په خپلو مورچو کی ناست او له خپل دین، ناموس او هیواد څخه به یی دفاع کوله، د هیواد له یو سره تر بله سره به پلی او ډیرو خطرناکو حالاتو کی روان و شپه په شپه به یی له یوی جبهی بلی جبهی ته ځانونه رسول ! هغه پتیمان څه شول چی پلرونه یی د همدی خپل دین د ساتنی او هیواد د خپلواکی لپاره شهیدان شول او دوی واړه پاتی او اوس به به زلمی تری جوړ شوی ! هغه بوری مېندی څه شوی چی خپل نازولی زامن یی د همدغو کفارو سره په جگړو کی قربانی کړل ! او هغه ناوی څه وایی چی کلونه کلونه یی د خپلو ورکو خاوندانو په بیلتون کی تیر کړل بالاخره یی هیڅوک هم ونه موندل او هغه پاک زړی مهاجرین په کومه خوا ولاړل چی خالص د الله تعالی د رضـا لپاره یی خپل کور کلی او هستی نیستی ټوله پریښوده او کلونه کلونه یی د خیمو لاندی سختی پردیسی شپی تیری کړی ! څه شول هغه د اسلام خواخوږی او با احساسه دردمن خلک چی د یو خپلواک اسلامی افغانستان ډیر زیات ارمانونه یی درلودل او د همدی مقصد لپاره یی ډیر کړاونه وزغمل ! او څه شوی هغه گرمی جذبی او ځپانده احساسات چی بی شمیره ولسونه یی له کفارو سره جهاد او مبارزی ته را پارولی او خوځولی وو هیڅ نه پوهیږو د یو داسی خطرناک حالت په موجودیت کی هم خلک لا څه نور سوچونه کوی ! آیا دا خبری نه اوری او که په مطلب یی نه پوهیږی آیا نه وینی چی زموږ هغه گران هیواد چی د یو نیم میلیون شهیدانو په قربانی مو له روسانو را خلاص کړ اوس بیا له سختو گواښونو سره مخامخ دی ! آیا رښتیا هم زموږ هغه یو شمیر پوه او با خبره افغانان چی د مشکلاتو د حل لپاره یی روم، قبرس او جینوا ته سترگی نیولی نه پوهیږی چی خبره د کفر او اسلام ده او همدا کافران دی چی موږ ته ډول ډول ستونزی جوړوی نه پوهیږو زموږ دا مشران او پوهان څه مجبوریت لری چی په داسی بحرانی شرایطو کی هم هیوادوال یوازی پریږدی او د خپل شخصی انانیت او ځانی مادی گټو لپاره د یو او بل کفری هیواد لمن نیسی، د ستونزو حل تری غواړی او په هیواد کی د لا زیاتی لاس وهنی چانس ورکوی څنگه یی دا ځوریدلی اسکــــرلی ولس له زړه وځی په کړاوونو او ستونزو کی بی یوازی پریږدی د کفارو تهدیدونه یی اوری او غوږونه پری کاڼه اچوی او په خپله د منحط او ذلیل ژوند د یوی غوبری گولی لپاره بیا هم د کفارو د خوښی خبری کوی ایا دوی کله هم خپلو ایمانی او افغانی مسولیتونو ته متوجه شوی دی ؟ په دنیا کی خو به د خپلو کړو وړو مختلفی توجیه گانی او تاویلونه وکړی خو د الله عزوجل په وړاندی به په داسی حالاتو کی د خپلو دغو مواقفو څه ځواب وایی ؟ آیا د سختی ملامتی او شرمندگی مستحق به نه وی ځوک چی خپل گران اسلامی هیواد د کفارو بلوسیدو او گواښو ته یوازی پریږدی او په خپله د وړو وړو جزئی خبرو په پلمه کولو سره د خیر په غوښتی تندار چی کښینی، د راتلونکو نسلو او تاریخ په وړاندی به څومره گرمتیا او پړه ولری ؟ آیا بیا به د تاریخی لعنت او غندنی وړ نه وی ؟

نو ای د خـــدای د لاری ســر ښندونکو مجاهدینو راځی یو ځل بیا له سره خپل نیتونه خالص کړی او د خپل دین او هیواد د ساتنی لپاره خپل ټول مادی اغراض شاته وغورځوی او په میړانه خپل جهاد ته دوام ورکړی او ای د ډیندارو او دردمنو علماو او پوهانو راځی له وړو وړو جزیی اختلافاتو تیری شی او د خپل دین ملت او هیواد اساسی گټی په نظر کی ونیسی، په دغو حساسو شیبو کی خپلو تاریخی مسؤلیتونو ته متوجه شی او د خپل خدای په وړاندی غاړی خلاصی کړی هغه حقایق چی تاسو بی د سر په سترگو وینی ومنی او نور بی ځایه تاویلونه مه پکی کوی او په دی یقین وکړی چی کـه موږ او تاسی ټول خپلو مسؤلیتونه پام ونه کړو او په دی لاره کی هڅه هاندونه کړو نو په دنیا کی به د سخت ذلت او شرمندگی سره مخامخ، د کفارو غلامی او نوکری به را باندی تحـمیل، او د تاریخ په پانو کی به د ستـرو ملی خاینانو په نامه ونومول شو، او په آخرت کی خو د الله تعالی په وړاندی دد غسی ځان غوښتونکو او له کفارو سره ملگرتیا کونکو لپاره ډیر سخت عذابونه تیار شوی .

سحر

زه «سحر» به په مرحوم سحر یادیږم
محبت زما د مزار دی درسره وی

ښادمن

«سحر» د شهید بسم الله «سحر» د شعرونو ټولګه ده چې د کندهار د اطلاعات او کلتور ریاست له خوا په ښکلی کاغذ چاپ شوی. «سحر» هغه ځنکی شاعر دی چې نوی یې د شعر غوټی غوړیدلی وی او خپل شعرونه یې د اسلامی عقیدی په بنا ټولنی ته وړاندی کړی دی. ښکلی خیال او نوی پیغام لری خو د ژوند په تاندو ارمانو یې د وخت ناتار تاړاک کړی په ځوان او ځنکی عمر کی یې د شهادت جام پری څښلی دی. شهید «سحر» په خپل شعر کی د افغانی اسلامی انقلاب حماسی راوړی او له ټول ځوان نسل څخه یې په هر ځای کی غوښتنه کړی چې د اسلامی جهاد ارمانونه ترسره کړی.
ملا عبدالحی «مطمئن» د نوموړی کتاب په سر کی لیکی د ځنکی او ځوانی مرګ شهید ملا بسم الله «سحر» دغه شعری ټولګه د روح په ګوتو واړوی، د زړه په ګوتو یې وګوړی او دده د غیرتمن ژوند لیک په هنداره کی یې د خپل ایمان په مشوره په زړونو کی ولمانځی مطمئن د بسم الله سحر څهره داسی انځوروی د ځګه نری ونه، سور او سپین ځنکی زلمو ټی ږ چی ږیره یې تازه په مخ... له مطمین څخه وروسته د ملا سردار محمد «شکیب» لیکنه راغلی او هغه یو ځای لیکی «نوموړی شهید د توری تر څنګ د خدای «ج» لومړنی مخلوق (قلم) هم تر څو که نیولی، تر څو یې د الله «ج» په لاره کی وکاروی. هغه د جهاد په ګرمو سنګرونو کی د پردیس، خو، خواږه ژوندون دردونه په شعرونو کی انځور ول او بیا به د خوږو، خوږو آوازونو په څپو کی زمزمه کیدل. دا دی د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست د نوموړی شهید د اثر او دده د یاد د تلپاتی کیدلو په هیله دده خوږی وری ترانی او شعرونه د هغه د وروکی او ځای ناستی ورور ملا محب الله «سحر» په ملتیا سره یو ځای کړل او د یوی شعری ټولګی په بڼه یې د ټولنی په وړاندی ږدی»
تر څو چې خپلی سترګی د «سحر» په شعری ټولګه خوږوی راځی تر هغه مخ ته یې له شعری ټولګی یو شعر چې د «یادګار» تر عنوان لاندی راغلی په ګډه ولولو:

یادګار

درنه لاړمه زما د سترګو توره
زما یادونه او افکار دی درسره وی

ستا د زړه په ښکلی کور کی تصویرونه
زما ددی وروستی دیدار دی درسره وی

زه خو تل د ژوند اوږو کی وفا داروم
څه خیالونه وفادار دی درسره وی

مرګی شته دی زه به تل درسره نه یم
زما د خولی یو څو اشعار دی درسره وی

لکه ماسره چې مل به وی تر حشره
ارمانونه ددی وار دی درسره وی

چې پری بیا درته یادیږم کله کله
دا څو کرښی د یادګار دی درسره وی

زه «سحر» به په مرحوم سحر یادیږم
محبت زما د مزار دی درسره وی

ننګ

مهتاب ګل پروانه

ځی د تکبیر ناری وهی ټول روانیږی
په طالبانو د الله رحمت اوریږی

واوره ددی وطن دښمنه
له تانه دا کوم پوښتنه

په وینو رنګ یې زړه دی ولی نه سرپیږی

پر مونږه ګران ښکلی وطن دی
دغه مو کور دا مو مدفن دی

وطن فروشان به له دی خاوری تل ورکیږی

دغه د توری غیرت جنګ دی
هر یو طالب ولاړ په ننګ دی

اخیر دښمن به یې په خپل اور کی سوځیږی

د شعر او ادب نړی

چي کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مې زلفی د خوبان کړی

جدا دل

ابوالمعاني میرزا عبدالقادر بیدل

زمن عمریست میگردد جدا دل
ندانم با کی گردید آشنا دل
ز حرف عشق خارا مي گدازد
من و رازي که نتوان گفت با دل
نفس آیینه را زنگار یأست
ز هستي باخت امید صفا دل
برنگ لاله نقد دیگرم نیست
جگر از داغ دارد خونبها دل
تپش گم کرده اشکي نا توان چشم
گره بالیده آهي نارسا دل
ثباتي نیست بنیاد نفس را
حباب ما چه بندد بر هوا دل
مزن اي بیخبر لاف محبت
مبادا آب گردد از حیا دل
حریفان از نشان ما مپرسید
خیالي داشتم گم گشت با دل
نبردن «بیدل» از بیدردیم نیست
چو موج گوهرم در زیر پا دل

زهی دل

لاهوتي

نشد یك لحظه از یادت جدا دل
زهي دل افرین دل مرحبا دل
ز دستش یکدم اسایش ندارم
نمي دانم چه باید کرد با دل
هزاران بار منعش کردم از عشق
ولي برگشت از راه خطا دل
به چشمانت مرا دل مبتلا کرد
فلاکت دل مصیبت دل بلا دل
ازین دل داد من بستان خدایا
ز دستش تا به کي گویم خدا دل
درون سینه هم آهي ندارد
فقیر و عاجز و بي دست و پا دل
بشد خاك و زکوهت بر نخیزد
زهي ثابت قدم دل با وفا دل
ز عقل دل دگر از من مپرسید
چو عشق آمد کجا عقل و کجا دل
تو لاهوتي ز دل نام دل از تو
حیا کن با تو ساکت باش با دل

راز محبت

میر ظهور الدین «شهیر»

یکن از قید غم روحم رها دل
بدرد عاشقي کن مبتلا دل
ز دریاي محبت جرعه بي نوش
که از زنگار غم گردد صفا دل
محبت راز و رمز عاشقانست
بگیر این شمع روشن رهنما دل
اگر خواهي ز مستوران نباشي
گذار ارمان دنیا زیر پا دل
بنوش از شربت حق نوشدارو
کزین مهلك مرض یابي شفا دل
همي جویي اگر راز محبت
بکن تعقیب راه مصطفي دل
بنزد دلبران فرزانه گردي
اگر جویا شوي رسم وفا دل
نهادن بر زمین سر را چه معني
که تا با سر نسازد سجده ها دل
به معراج حقیقت راه یابي
معفا کن فضاي خانه را دل
«شهیر» از راه پر نور محبت
چرا با حق نسازي آشنا دل

ذکري پیرامون پدیده ها و آثار فرهنگي کشور!

خوانتده گان عزیز آگاهي دارند که امارت اسلامي افغانستان پیوسته سعي ورزیده است تا نه تنها پدیده ها و میراث هاي فرهنگي کشور را به مثابه، دستآورد هاي تاب و تاریخي هر برهه زمان و تاریخ بي بدیل سرزمین افغانها، حفظ و معرفي بدارد بلکه عرصه هاي مختلف تاریخ و آثار باستاني آنرا به منظور آگاهي جوانان، هموطنان و نسل هاي بعدي به معرفي گیرد. بدین ملحوظ ضرورت مبرم محسوس مي شود تا هر پدیده باستاني در مقام و حالات موجوده اش به منوال اصل اساسي افتخارات کشور در سطح جامعه مان و همانطور فراتر از آن در سطح بین المللي با امتداد کشفیات و فر آورده هاي علمي در دست تحقیق و پژوهش قرار دهد. با وجودیکه حوادث چند دهه اخیر زیان هاي بزرگي بر پدیده ها و پیکره هاي آثار فرهنگي وارد آورده امارت اسلامي افغانستان با التیام بخشیدن این حالت نه تنها در احیاء و باز سازي موزیم ها بویژه موزیم ملي کابل سلسله تدابیر و فعالیت هاي عملي را از طریق وزارت اطلاعات و فرهنگ و موسسات علمي و تحقیقي انجام داده و موفق به دستاورد هاي شایاني گردیده، بلکه تصمیم اتخاذ نموده تا در پرتو فرمان عالیقدر امیر المؤمنین و مصوبات ریاست الوزراء امارت اسلامي افغانستان پیرامون حفظ آثارو پدیده هاي باستاني اقدامات عملي و علمي را انجام بدهد. به تأسي از این اصل تداوم نشر محتواي آثار باستاني، پدیده ها و میراث هاي فرهنگي کشور را که براي عموم به گونه، مطالب مقدماتي قابل فهم و معرفي باشد، بصورت جزوار در دست طبع قرار میدهد.

آثار و پدیده های تاریخی و فرهنگی افغانستان باستان

مینار جام یا بناي بي نظیري در قرن حاضر

نظر محمد عزیزي

دیوار هاي کهن کابل و آبدات تاریخي آن

کابل که یکي از مراکز مهم فرهنگي و سرزمین تاریخي در کشور است قدامت آن از لحاظ دوره هاي تاریخي بیش از ۱۵۰۰ سال بوده، مهد تمدن و فرهنگ بزرگ در کشور به شمار میرود.

نخستین بار نام کابل در اوستا به ذکر رسیده و از تسمیه کارور، کابور و کابورا از آن ذکري بعمل آمده و جغرافیه نویسان یوناني آنرا به اسم اورتسپانا یا آرتسپانوس نامیرده است. در حین بازدید زایران شرقي منجمله زایرانیکه در قرن پنجم و ششم میلادي وارد این منطقه گردیده اند به اسم کوهیش یا کوفي یاد نموده اند در کنار رود کابل و رود لوگر بهترین دوره هاي مدني زمان باستان به مشاهده میرسد. و آبادي هاي بیشتري در دو طرف و مسیر این رود اعمار گردیده بود و این رسم و رواج تا قرن حاضر نیز معمول بوده به شهادت و شواهد مؤرخین عرب در دوره، عروج اسلامي قرن چارم هجري مانند المسالك والممالك اصطخري و ابن خرداد به و حدود العالم منسوب به جیهاني کابل به گونه قلعه مستحکم و کهندژ با حصار محکم ذکر شده که داراي دیوار هاي بلند و محکمي بوده دامنه هاي آن هموار و وسیع بوده، بهترین آبادي هاي آن مربوط به قرن دوم و سوم میلادي میباشد.

آنچه بسیار ارزنده است اعمار ساختمانهاي کهن دیوار هاي مطول کابل است و زماني درین خطه آخرین بقایاي سلسله کوشاني ها یعني کیداري ها به ضعف زمامدار در جنوب هندوکش ظاهر میشوند کابل نیز یکي از مناطق است که مورخین آنرا از جمله هفت شهري میداند که آنرا هوشنگ بن سیامك بن کیومرث پیشدادیان آریایي بنا نهاده است که در تابستان اقامتگاه شاهان محلي آندوران بوده و بعد ها شاهان هندو شاهي و بعد ها تسلط ترکي شاهیان و رایان کابلي نیز در این منطقه زیست و بود و باش نموده اند. طوریکه از لحاظ متون تاریخي تدقیق بعمل آمده است خطرات بزرگي شهر موجوده کابل و ساحات قدیمه کابل را بیگانگان شمال به قول بعضي مؤرخین تهدید مینمود از این لحاظ دو اصل عمده مورد بحث محققین قرار مي گیرد.

۱- نظریه اول آنست که شاهان اخیري کوشاني ها یعني کیداري ها در برابر حملات یفتلي هاي شمال از قطع وسط کوه شهداي صالحین الي تقاطع دو کوه در شیر دروازه و کوه موجوده جوي شیر کابل دیوار هاي ضخیم و بلند ارتفاع را از پخسه خشت خام و پر چال عمار کردند و در قسمت و با انجام فوقاني این دیوار ها کنگره ها اعمار گردیده بود و این دیوار ارتباط آن با کهندژ کابل یعني بالاحصار موجوده مي گرفت و احتمالاً براي حفاظت شهر و این کهندز با حصار قدیم اعمار گردیده بود.

۲- نظریه دومي برین منوال استوار است که برهمن شاهیان کابل در برابر حملات مسلمین در عصر عبدالرحمن بن ثمره و یعقوب لیث صفاري این دوبار ها را پیش بکي نموده بودند تا در صورت حملات احتمالي جلوگیري و تدافعي شده بتواند، تا هنوز مطالعات دقیق و سنجش اسناد موثق و تحقیقات کامل درست انجام نشده و شواهد قوي در دست نیست که چنین دیواري و کهندژي چون بالاحصار در کدام یك از ازمنه قدیم اعمار گردیده است گر چه درین راستا مطالعات و نوشته هاي زیادي صورت گرفته ولي براي تعین تاریخ و دوره حاکمیت شاهان قبلي بسنده نبوده ایجاب تحقیق مجدد و دقیق را در زمینه مینماید.

مؤرخین درین زمینه علاوه از دو طرح فوق یفتلي ها را مورد بحث قرار میدهند و چون آنها را مردمان جنگجو و سلحشور مي دانند اعمار بالاحصار کابل و دیوار هاي کوه شیردروازه را متعلق به عصر یفتلي هاي قرن پنجم و ششم میدانند، در تاریخ گواه هست که رایان و شهان کابلي در برابر حملات عرب در پاي این کوه ها سنگر گرفته بودند و شهر را دفاع میکردند.

علاوه از این آنچه گفته آمدیم در تاریخ آسیا فقط در دو محل میتوان چنین آبادي هاي بزرگ و عظیم را ملاحظه کرد و آنهم نه در یك مدت کوتاه بلکه سالیان متمادي را در بر گرفته است تا این دنیاي بزرگ بوجود آمده یکي دیوار عظیم چین است که در حدود ۳۰۰۰ کیلو متر در برابر حملات هون ها اعمار گردیده و دیگري دیوار هاي کوه شیردروازه و آسمایي که هر کدام نظر به دوره و زمان خود در خور اهمیت است. تحقیقات باستانشناسي این موضوع را بعداً ثابت خواهد ساخت که ارتباط حصار مرکزي شهر یعني بالاحصار موجوده با دیوار هاي کوهاي کابل با هم هم آهنگي دارند با تاریخ اعمار این بنا ها در ادوار مختلف صورت گرفته است. بناً بحث تحقیقي از حوصله این نوشته فعلاً دور است به معرفي مختصر آن اکتفا گردید. باید یاد آور شد که در عصر احمد شاه دراني و تیمور شاه سدوزایي در این دیوار ها و حصار مرکزي مرمت کاري بوجود آمده و در حفظ آن توجه زیاد صورت پذیرفته است.

نمونه دیوار هاي کوه هاي شیردروازه و آسمائي

دشـريعت اوونيزه گڼون کــونکي مني

دشریعت اوونیزه چی دافغانستان داسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان دی د ۱٤۲۱ هـ ق ، ۱۳۷۹ هـ ش لپاره گډون کونکی منی.

محترم گډون کونکی کولای شی چی دهیواد په دننه کی په لاندی جاری حساب $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ دافغانستان بانک مرکز اویا خپله دشریعت اوونیزی داداری له لاری گډون وکړی دشریعت اوونیزی دگډون کلنی بیه ۷۵۰۰۰ شپږ میاشتینی ۳۷۵۰۰ او د زده کونکو لپاره نیمه بیه ده . د زیاتو معلوماتو دتر لاسه کولو لپاره له اداری سره په لاندی تیلفون ارتباط ونیسی :

(۲۱۳۸۱)

یـــــــادونــــــه

هغه محترم هیواد وال چی له هیواد نه بهر اوسیږی کولای شی چی په شریعت اوونیزه کی گډون وکړی او دگډون بیه په لاندی پته مونږ ته راولیږی.

لومـری دی د المـان په فـرانگفـورت کی د H.C.V له دفـتـر سـره په (۰۰٤۹-٤۰-۲۲۲۰۲۲) نمبر تیلفونی تماس ونیسی او له همدی لاری دی خپله د گډون ونده په کابل کی د شریعت اوونیز ی اداری ته ٙرا ولیږی .

وروستـه دی دخپل اطمینان لپـاره په لاندی نمبر له شریعت اوونیز ی سره ارتباط ونیسی. (۰۰۹۳۲۲۹۰۰۹۰۲۱۳۸۱)

همدارنگه هغه محترم گډون کونکی چی له پخوا په شریعت اوونیزه کی گډون لری. که په نوی ۱٤۲۱ هـ ق - ۱۳۷۹ هـ ش کال دخپل گډون د تمدید نیت لری لطفاً دی خپل حق الاشتراک په پورتنی پته دشریعت اوونیزی اداری ته راولیږی.

اداره

بقيه مرکز تربیوي مخابرات بمشابه يك کانون علمي و ...

و به جامعه تقدیم مینماید. باید گفت که سامان آلات و لوازم لابراتواري جهت کار هاي عملي وسایل طباعتي کتابخانه و سایر نیازمندیهاي تدریسي رشته هاي تیلفون ، کیبل، کریر، رادیو، تلویزیون ،بینچ ورکشاپ و ... را موسسه ITU تهیه و در اختیار این کانون تربیوي گذاشته بود .

نامبرده اضافه کرد : مرکز تربیوي مخابرات بمشابه يك کانون علمي و تحقیقاتي داراي هفت دیپارتمنت میباشد که عبارت اند از:دیپارتمنتهاي : عقیدتي ولسان، ساینس،رادیو، الکترونیکس ، کیبل سیستم، انفارمیشن سیستم و پست. این مرکز تربیوي از آغاز فعالیت خویش تا کنون بیش از هزار تن کادر هاي مسلکي جوان را به جامعه تقدیم نموده است. شاگردان مرکز تربیوي مخابرات دروس شان را از صنف نهم آغاز و از صنف چهاردهم فارغ میشوند. جدید الشمولان ما باید واجد شرایط ذیل باشند : در مدارس مربوطه شان از صنف نهم به صنف دهم کامیاب شده باشد. ، سن شان از ۱۸ سال بالا نباشد ، امتحان کانکور را موفقانه سپري نماید . در سال تعلیمي جدید ۱۳۷۹ به تعداد ٤۰ تن طالب العلمان را در دیپارتمنت هاي مختلف جذب نموده ایم . البته جدید الشمولانیکه از مدارس ولایت در مرکز تربیوي جذب میشوند از امتیازات و امکانات لیله نیز مستفید شده میتوانند. باید گفت که سال تعلیمي ۱٤۲۱ ما به تاریخ ۱۳۷۹/۱/۲ آغاز و پروسه تدریسي به شکل نورمال ادامه دارد.

وي میافزاید : متأسفانه از اثر جنگهاي ذات البیني اخیر که در شهر کابل به وقوع پیوست به مرکز تربیوي ما خسارات زیادي که بالغ بر ملیونها دالر میگردد وارد گردید در نتیجه ساختمانهاي اساسي ما تخریب و تمام وسایل تجهیزات و سامان آلات به شمول کتابخانه و لابراتوار ها چورو چپاول و یا حریق گردیدند .

در اخیر محترم معاون مرکز تربیوي مخابرات افزودند: نظر به توجه خاصي که امارت اسلامي افغانستان به باز سازي تأسیسات عام المنفعه کشور دارد چندي قبل وزارت مخابرات در مورد باز سازي و ترمیم این مرکز تربیوي قرار دادي را با شرکت ساختماني بادغیس امضأ نمودند که به اساس آن کار هاي ترمیماتي به شدت جریان داشته و عنقریب به پایه اکمال خواهد رسید . قابل یاد آوریست که از طرف وزارت محترم مخابرات در سال ۱٤۲۱ در سیستم تدریسي این مرکز تربیوي نیز نظر به نیازمندیهاي سیستم مخابراتي کشور باز سازي صورت خواهد گرفت . از جمله تدریس سیستم هاي مخابراتي مایکرویف، ستلایت، موبایل کمونیکشن، کیبل سیستم و کمپیوتر را میتوان نامبرد که جدیداً شامل پروگرامهاي تدریسي ما خواهند گردید.

تهیه کننده : سید یوسف

بقيه مبارزين مسلمان چيچن

خبري بین المللي قومانداني روسیه به آژانس خبري انترفاکس گفت مبارزین چیچن توجه خود را به شهر ستراتیژیك ارگون و تنگي کوه ویدینو معطوف کرده امیدوارند کنترول خود را بر آن مناطق بر قرار سازند نظامیان روسیه همچنان از فرا رسیدن موسم گرما ابراز نگراني نموده و از احتمال خطرناکتر شدن اوضاع خبر داده است زیرا به گفته روسها سرسبزي براي مبارزین پناه گاه خوبي بوده و براي حملات غیر مترقبه علیه قطعات روسها از آن استفاده میکنند.

بقيه محترم ملا محمد ...

انجام وظایف صادقانه دعوت نمود سپس محترم رئیس عمومي اداره امور ضمن ایراد بیانیه مبسوطي اهمیت و ارزش کنترول و تفتیش را در پرتو قوانین و مقررات مطروحه امارت اسلامي توضیح نموده اشتراك کننده گان را بکار مثمر و صادقانه تشویق نمود.

بعداً صلاحیت نامه هاي مفتشین در تطبیق پلان کاري ربع اول سال ۱٤۲۱ هـ ق که شامل پنجاه و پنج مرجع بودجوي ، تصدیها ، موسسات ، شرکت ها در مرکز و ولایات کشور میباشد تشریح گردید.

بقيه هفده کیلو گرام ...

دستگیر گردید.

چرس متذکره توسط هیأت موظف حریق و عاملین آن تحت تحقیق قرار داده شد.

پاتي د رياست الوزرا د ...

سوه دوه ملیونو افغانیو په وروستنی پانگی د پنځه ویشتو بیلا بیلو تولیدی او خدماتی پروژو د جوړولو او فعالیت منظور شو چی ددغو پروژو په فعالیدو سره زموږ بوزرواوه سوه پنځه شپیتو تنو هیوادوالو ته د کار زمینه برابریږی.

پاتي روسيي د افغانستان ...

سمبالول بو څرگند عمل دی او روسیی ددغه شان دریغ په غوره کولو سره بو ځل بیا د افغانستان له خلکو سره خپله دښمنی اعلام کړه .

پاتي په اسلام آباد کي ...

اړیکو او د دوستانه مناسباتو د ټینگښت او پراختیا په اهمیت او ارزښت باندی ټینگار وشو د متقابلو اړیکو په تیره بیا له گاونډی هیواد چین سره د مناسباتو په لا زیات ټینگښت او پراختیا کی د افغانستان د اسلامی امارت په ښه نیت او د سیمی په سوله او ثبات کی ددغه هیواد په رول باندی ټینگار وشو .

دغه راز ددغی کتنی په بهیر کی د علاقی ور بو لړ مسالو په باب خبری اتری وشوی او د جگړه ځپلی افغانستان د بیا جوړولو په مقصد چی د روسانو د تیری له امله نه یوازی ویجاړ شویدی بلکی اقتصاد ته یی سخت زیان رسیدلی دی د مرستو د جلبولو په باب د هغوی پاملرنه واړول شوه .

پاتي د کابل ښار په دري ...

مرکزونه پرانستل شوی او د کابل ښاریانو د استفادی ور گرزیدلی دی.

پاتي د شبرغان - مزار ...

لاین د ترمیمولو کار چی څه موده مخکی د افغان گاز تصدی لخوا پیل شوی و په دی وروستیو وختو کی بشپړ شو .

دغه پایپ لاین له آقچی څخه تر مزار شریف پوری د اتیا کیلو مترو په اوږدوالی ترمیم شویدی. چی ددغی پروژی د کار په بشپړیدو سره به د مزار شریف کابو پنځوس زره کورنی د گاز له انرژی څخه استفاده وکړی

بقيه په هيواد کي د شري ...

محترم داکتر حیدر قل سره لرله د شری د ناروغی د پیښو او د نورو روغتیایی مسألو په باره کی خبری اتری وکړی .

انتخاب اولین زن المانی بصفت رهبر يك حزب

میرمن انجلا میرکن بحیث رئیس حزب دموکرات مسیحی المان انتخاب گردید

بدنبال افتضاح مالی هیلموت ٙکو ل صدراعظم اسبق المان و رهبر سابق حزب دموکرات مسیحی و یلف گانگ شویبلر رئیس آن حزب از سمت خود استعفا داده است .

بقيه جنگهاي شديد ...

صدرو از جانب تفنگداران قوماندان ملابیگ به اسارت در امده و چند تن از افراد هر دو جانب کشته و مجروح گردیده اند خبر در اخیر مي افزاید که این درگیري ها هنوز هم به شدت در جریان مي باشد.

پاتي د کورنيو چارو وزارت ...

واقعیتونو په خپرولو سره خپلی دندی او مکلفیتونه تر سره کړی او په دی وسیله د نړی د خلکو او هیوادونو تر منځ د تفاهم او نږدیوالی زمینه برابره کړی تاسی د سندونو او واقعیتونو له مخی د دروا غـو اکاذیبـو او د دښمنانه تبلیغاتو مخه ونیسی. نه دا چی په خپله د سیمی د هیوادونو او د نړی د ملتونو تر منځ د دښمنی تفرقی او نفاق د پیدا کولو سبب شی.

د کورنیو چارو محترم وزیر د یوی پوښتنی په ځواب کی وویل په افغانستان کی د بل هر وخت په نسبت جنایی جرمونه ځپل نزولی قوس وهی دا مسأله په ډاگه څرگندوی چی د افغانستان اسلامی امارت د افغانستان د خلکو ارامی او نیکمرغی پوه شیبه هم نه هیروی او دا حقیقت دی چی خلک یی د اسلامی امارت په شاوخوا را ټول کړیدی.

د کورنیو چارو وزارت په پام کی لری چی ددغه وزارت منسوبین د پولیسو په مخصوص یونیفورم سره سمبال کړی او له دی لاری په هیواد کی د ښه امنیت د تامینولو لپاره بل گام واخلی. د کورنیو چارو وزارت منسوبینو په پرله پسی او صادقانه کار سره په لویو لارو کی ترافیکی سالم نظم او اسانتیاوی تامین کړیدی چی دغه مسأله د زره بوگنونکو ترافیکی پیښو د مخنیوی سبب شوی ده موږ په دغو ارزښتونو باندی بسوالی نه کوو موږ تصمیم لرو چی په هیواد کی داسی امنیتی نظام ټینگ کړو چی زموږ ماشومان وکولی شی له ویری او ډار پرته د هیواد له یوی سیمی څخه بلی سیمی ته سفر وکړی .

زموږ هدف په ټول هیواد کی د ظالم له شر څخه د مظلوم ژغورنه او د امنیت او عدالت تامینول دی. د ظالم له منگولو څخه د مظلوم د ژغورنی لپاره د هیواد په هره څنډه او په گوټ کی چی وی مقابله کوو دا زموږ اسلامی کور دی او د اسلام مبین دین موږ ته دا مجوز را کړیدی چی د ظالم په مقابل کی د مظلوم دفاع وکړو او په ټول هیواد کی د ظلمونو ،بی عدالتیو ، فسق ، فساد او د لوټماری مخه ونیسو موږ په همدی مقصد پاڅون کړیدی.

پاتي د هرات په ولايت کي ...

ترانسپورت د عمومی ریاست په پیشنهاد د ښار په خشیخ کی د بار وړونکو وسایطو د مزاحمت له پلوه د موټر لرونکو د ستونزو دله منځه وړلو په خاطر د هرات ولایت د کرنی ریاست ځلوېښت جریبه شاړه ځمکه د شمال لویدیځ زون د تنظیمه ریاست د هیأت تر نظر لاندی د ترانسپورت د عمومی ریاست د مسولینو په واک کې ورکړ شوه . ټاکل شویده د عمومی پارکینگ د تاسیساتو او اړارولو کار د ترانسپورت د عمومی ریاست لخوا دد وو میاشتو په بهیر کی بشپړ او گتی اخیستنی ته وسپارل شی.

د گډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

آقاي کوفي عنان بايد نظاره گر نباشد

جریانات و سرگرمي هاي اخیر شوراي امنیت سازمان ملل متحد اگر به دیده دقیق مورد ارزیابي قرار گیرد دیده مي شود که جناحي از اعضاي شوراي امنیت با استفاده از نام و صلاحیت هاي شوراي مذکور اهداف شخصي خود راد ر پرده فیصله هاي رسمي شوراي امنیت پیچیده و قبول آنرا بالاي جهانیان تحمیل مي نماید. ناظرین سیاسي برین عقیده اند که اصرار شوراي امنیت مبني بر تحویل عاجل اسامه بن لادن از جانب امارت اسلامي افغانستان به ایالات متحده امریکا مسئله ایست که فقط و فقط از جانب حکومت امریکا پیکش گردیده و نماینده قصر سفید با استفاه از موقف و منزلت حکومتش در شوراي امنیت اعضاي دیگر این شورا را مبجور ساخته است تا بر فرمایشات واشنگتن مهر صحه گذاشته و تطبیق بین المللي آنرا خواهان گردند . فشار حکومت امریکا بر اعضاي شوراي امنیت و قبولاندن اهداف قصر سفید بالاي آنها بیانگر آنست که از شوراي مذکور و مقام بالاتر از آن یعني مقام سازمان ملل متحد به جز نام نمایشي چیز دیگري باقي نمانده است اگر چنین نمیبود در پرتو سیاست هاي مثبت و عالمانه امارت اسلامي افغانستان در رابطه به مسئله حضور اسامه بن لادن در افغانستان و دیگر مسایل مورد نظر لازم بود تا راه مذاکره و تفاهم در زمینه بازگذاشته مي شد و از جانب اعضاي شوراي امنیت تلاش هاي مثمر و حکیمانه جهت حل مسایل مورد اختلاف با امارت اسلامي افغانستان براه انداخته مي شد و ممکن نبود تا در پرتو حقایق و استدلال واقعبینانه این مشکل و سایر مسایل حل میگردید اما متاسفانه که شوراي امنیت و در مجموع سازمان ملل متحد در رابطه به مسایل جهاني بي صلاحیتي کامل را اختیار نموده و در هر موضوع چشم بسوي فرمایشات و خواسته هاي چند کشور حاکم بر این سازمان دوخته است، تنها موضوع تهدیدات شوراي امنیت تحت فشار امریکا نیست که بي صلاحیتي شوراي مذکور را بر ملا مي سازد بلکه بسا مسایلي موجود است که به سطح جهاني در پیش نظر سازمان ملل متحد بر خلاف موازین بین المللي و اصول سازمان مذکور از جانب بعضي از حلقات زورگوي و متجاوز براه انداخته مي شود و سازمان مذکور در مقابل آن خاموشي اختیار مینماید چنانچه اخیراً ایگور ایوانوف وزیر خارجه فدراسیون روسیه اعلام داشته است که حملات ارتش روسي بر حریم افغانستان دور از امکان نیست اگر چه وزیر خارجه روسیه به اصطلاح تربیت گا هاي تروریستان را بهانه این عزم شوم خویش اعلان داشته است اما طوریکه جهانیان آزاد شاهد اند هیچکدام چنین پایگاهي در افغانستان وجود نداشته و در پهلوي آن فدراسیون روسیه با کشور ها هیچکدام سرحد سیاسي ندارد که از جانب افغانستان آنها احساس خطر نموده و براي خود حد اقل یك بهانه بتراشند در چنین یك حالت نیز وظیفه سازمان ملل و شوراي امنیت بود تا بصورت فوري حکومت روسیه را به عاقبت این اعلامیه عاقبت نا اندیشانه و تجاوز گرانه شان متوجه مي ساخت و رسماً این حرکت حکومت روسیه را تقبیح نموده و جلو چنین زورگویي ها را مي گرفت اما باز هم با خیلي تاسف دیده شد که نه اقاي سرمنشي سازمان ملل متحد ونه شوراي امنیت در زمینه از خود کدام عکس العملي نشان نه داده و احساس هیچگونه مسؤولیت نیز نه نمود. اگر چه ملت مجاهد افغان به روسهاي وحشي همت و غیرت اسلامي خویش را در جریان چند سال تجاوز ارتش سرخ بر افغانستان در عمل نشان داده و اگر به آنها به اصطلاح صد دل هم داده شود باز هم باراي کج نگریستن به جانب سرزمین قهرمان افغانستان را دریافت نخواهد توانست اما باز هم در سازمان ملل متحد به عنوان معتبر ترین مرجع صلاحیت هاي سیاسي، نظامي اقتصادي و ... جهان این گیله ملت مجاهد افغان حق به جانب مي باشد که در برابر خاموشي آقاي کوفي عنان سرمنشي آن سازمان در رابطه به تلاش هاي ضد افغاني مقامات قصر سفید در شوراي امنیت و حکام کرملین در رابطه به تهدید مردم افغانستان از جانب روسها ابراز نماید. در چنین یك حالت لازم بود تا غرض تداوم صلح و ثبات در منطقه آقاي کوفي عنان به مقامات کرملین توصیه مینمود تا بر جاي خود نشسته و از هزاران کیلو متر دور در امور داخلي افغانستان مداخله ننمایند همچنان آقاي سرمنشي ملل متحد باید مشکل امارت اسلامي افغانستان و ایالات متحده امریکا بر سر موضوع اسامه را در پرتو احترام به عقاید رسوم و عادات و کلتور و فرهنگ دو کشور به گونه صلح آمیز و مدبرانه حل مینمود و این زمینه را مساعد نمي ساخت تا شوراي امنیت در نتیجه فشار هاي امریکا بر ملتي که جنگهاي بیست ساله همه هست و بود آنرا به غارت برده است از این بیش مورد آزار و شکنجه قرار مي گرفت و یا با تعزیرات تباه کن اقتصادي روبرو مي گردید. بر همه جهانیان مشهود است و نماینده گان سازمان ملل متحد در امور افغانستان نیز بارها این مسئله را ابلاغ نموده اند که مردم افغانستان از جهات مختلف اقتصادي و در نتیجه خشك سالي و غیره آفات طبیعي با مصایب ویرانگر مواجه است و در چنین یك حالت لازم است تا تمامي جهانیان بشر دوست با کمکهاي بشردوستانه شان این ملت ستمدیده را از فاجعه هاي عام گیر بشري نجات دهند اما خیلي افسوس که نه تنها جهانیان در رأس سازمان ملل متحد چنین نکرد بلکه در برابر مظالم اضافي که از جانب شوراي امنیت تحت فشار بعضي کشور ها و یا تهدیدات تجاوز گرانه روسهاي متجاوز که متوجه ملت افغان است نیز خاموشي اختیار نموده و حیثیت نظاره گر را اختیار نموده است . امید است آقاي کوفي عنان مسؤولیت سترگ بین المللي خویش را در زمینه هر چه عاجلتر احساس کرده و با مداخله جدي در این کشمکش راه هاي حل عاقلانه و قابل تطبیق در رابطه به مسایل قابل اختلاف دریافت نموده و نگذارد تا ملت مظلوم افغانستان بیش از این شکار دسایس دشمنان گردد.

SHARIAT WEEKLY

Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press